AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور ۲۰۲۶/۰۹/۲۷

# هغه ړانده ته لاس ورکړه چې اړ وي لاسنیوي ته

## غزل

جامې ګوري دننه يې انسان نه ورته ښکاري
د تن يې تماشه کوي وجدان نه ورته ښکاري

دا ګټه چې باطن يې ورته ډک کاندي له زهرو
دا ولې دا په څه دليل تاوان نه ورته ښکاري!؟

دا خلک نظاره تش د ظاهر کوي لګيا دي
دا ځکه خو پخپل زړه کې يزدان نه ورته ښکاري

هغه ړانده ته لاس ورکړه چې اړ وي لاسنيوي ته
هغه بينا نه ځان ساته چې ځان نه ورته ښکاري

هغوئ چې له غروره ښکته نه ګوري په ځمکه
هغوئ دومره هوښيار نه دي؛ اسمان نه ورته ښکاري!

دا قام پکي بندي شو مال ديوال د زوالقرنين دی
باوره ترې پناه شولو ايمان نه ورته ښکاري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ